## نهم پودکاست

## د موقعیت د موضوع دویمه برخه

جنبش: په تودو سلامونو اوربدونکو او د خپرونې مینهوالو ته هرکلی وایم. دا له ولسمشر محمد اشرف غني سره د افغانستان پر تاریخ او د اوسني حالت پر بېلابېلو اړخونو پرله پسې پودکاستونه دي چې نن په کې د موقعیت نیمګړی بحث له هماغه ځایه چې تېره خپرونه کې مو درولی و، له سره پیلوو.

ډاکتر صاحب غني، هرکله راشئ.

دکتور غني: مننه، سلامونه ټولو وطنوالو ته.

جنبش: ژوندي اوسئ.

زه به د حوصلې درته مننه وایم چې په دې بحثونو کې ګډون راسره کوئ. زه هیله‌من یم چې دا ځوان نسل ته د معلوماتو یوه پنګه شي. په تېره خپرونه کې موږ د افغانستان موقعیت د لرغوني او نسبتاً معاصر تاریخ په ادارو کې ولیده او ډېر لنډ پرې تېر شوو، نن غواړم له دغه ځایه یې را پیل کړو چې، موږ د آسیا د لویې وچې برخه یوو او وایوو چې د آسیا نښلونکي یوو. آسیا په طبیعي ډول د تاریخ په مختلفو ادارو کې د پانګې او شتمنۍ د تولید مرکز و. یو څه وخت دا مرکز لوېدیځ ته انتقال شو، اوس بېرته راځي. اوس په همدې خاطر ویل کېږي چې آسیا متحرکه ده، د شتمنۍ د بیا تولید په مرکز باندې بدلېږي. ځان به په کې وګورو، دغه متحرکه آسیا کې موږ چېرې یوو؟ په څه ډول دغه طبیعي جغرافیه په اقتصادي جغرافیه بدلېدلی شي؟

دکتور غني: بسم‌الله الرحمن الرحیم. ډېره مننه. لومړی له تاریخي نظره، د اتلسمې پېړۍ په پیل کې، ٪۴۰ نړیوال اقتصاد په آسیا کې و، خاصتاً په چین او هندوستان کې. نن هماغه [وضعیت] ته بېرته راغلي یوو. نو دا چې اروپاییان خپل تاریخ لیکي او خیال کوي چې د نړۍ ټول تاریخ د اروپا تاریخ دی، دا غلطه خبره ده. باید له دې حالته چې د تمدن تعریف انحصار کېږي په اروپایي تمدن باندې، ووځئ. دا قطعاً تاریخي اساس نه لري. دوی خپل تاریخ داسې ولیکه چې [له] نورو نه بېل شي. نن دا ثابته شوې ده چې اقتصادي تحرک، چټکتیا په یوه تمدن پورې تړلي نه ده. مختلف تمدنونه دي چې په یوه جهاني اقتصاد کې، یوه نړیوال اقتصاد کې یو بل سره [غاړه وړي] او اوس ضرورت [دا] دی چې اصول او

امکانات د دې برابر شي چې په همغږۍ سره مخکې لاړ شئ، نه په تضادو کې. له بده مرغه خطر د تضاد شته. دا يې يوه برخه. دويم، د لويې وچې جنجال په دې کې و چې د اقتصاد له نظره [بې خپلمنځي وصلېدو] ستونزې لري او دا چې څنگه يوه لويه وچه په اقتصادي براعظم بدلوئ. څه چې شوي دي، خاصتاً په تېرو دېرشو کلو کې، دا دي چې يوه عظيمه پانگونه د مواصلاتو په برخه کې شوې ده. چې يوازې د اوسني پټلۍ او سرکونه يې يوه برخه ده. همدارنگه د برق مزي دي او نور اتصالات دي. دې ټولو عصري اتصالاتو ته که وگورئ [او دا پانگونه] که سره ټوله کړو، زرها ميلیارده ډالره په دې باندې پانگونه شوې او معنی يې څه ده؟ آسيا د اتصالاتو له نظره وړه شوې ده. اوس چې يو ځای د آسيا نه بل ځای د آسيا ته حرکت کوئ، [مثلاً] يو ځای د چين يا يو ځای د هندوستان نه بل ځای ته حرکت کوئ، [فاصله يې] ترمنځ [د وخت د مصرف له نظره] وړه شوې ده. له تاريخي نظره يوازينی پخوانی مثال چې موږ [دې برخه کې] لرو د امريکا براعظم يعنې د متحده اياﻻتو وصلېدل دي. [دا وصل] د اوسپنې د پټلۍ له امله وشو چې دوه اقيانوسونه سره وصل شول او [دا کار] په ١٨٦٩ کې وشو. اوس بله برخه د دې دا ده، چې د آسيا منځ کې تجارت د اروپا او امريکا نه ډېر دی. دا بيا هم له اتلسمې پېړۍ نه پس بې‌سارې ده. اوس راځو دې [ته] چې موږ [په] دې کې شامل يوو که نه يوو؟ لويې طرحې موجودې وې، تاسې وليدې او ان‌شاءالله په مواصلاتو به وغږېږو چې لوی کورېدورونه، هم هوايي کورېدورونه هم د ځمکې کورېدورونه، دا ټولې طرحې موجودې شوې. هم دا چې څنگه انرژي د مرکزي آسيا نه جنوبي آسيا ته لاړه شي او نورې لارې او نور کورېدورنه هم و، اما نن بيا انزوا خوا ته روان يوو. نن افغانستان ته د وصل د ټکي يا ځای په حيث څوک نه گوري. دلته خبره په څه راځي؟ استعجاليت دی. آسيا دې ته صبر نه کوي چې افغانستان ثبات ته [ورسېږي] او [دده له امله] نور حرکات ونه شي. نور کورېدورونه ايجادېږي او [تاسې] انزوا خوا ته ځئ. او د دې لپاره چې افغانستان بيا د دې متحرکې آسيا تپانده زړه اوسي، [نو] بايد ژوند انتخاب کړئ، نه تدريجي مرگ. بايد حرکت وټاکئ او رسمي اقتصاد باندې زور واچوئ، نه شبکه‌يي او جرمي اقتصاد باندې. دا بيا هم د انتخاب وخت دی. که غواړو چې واقعاً ميليونها افغانان يو ډېر با آبرو او باعزته ژوند ته ورسېږي، بايد دې انتخاب [ته] راشوو چې دغه يو لوی فرصت دی. ځينې فرصتونه پخوا راغلي وو، له لاسه مو لاړل. آيا بيا دا فرصت له لاسه ورکوو [که] ورنه گټه پورته کوو؟

جنبش: دا بحث اوږدومه، پوښتنه لرم خو ستاسې د هغه مخکينۍ څرگندونې په حساب زه غواړم يوه تبصره وکړم، تاسې وويل اروپاييانو ځان د دنيا مرکز نړۍ ته وښوده، په داسې حال کې چې دغسې نه وه. د مرحوم شفيق يادونه تاسې مخکې وکړه، هغه په يوه قصه کې د «ډاکتر صاحب» په نامه، دا يادونه کوي چې څنگه يو افغان په لوېديځ کې خپل هيواد، د خپل هيواد کلتور او ولس او جغرافيه حتی محصولات او نور د غربيانو د ليکنو نه پيدا کوي، يعنې پخپله يې نه پېژني. دا، سړی دې تفکر ته راولي چې هر څه چې غربيان زموږ د هيواد په باره کې وايي او ځينې وخت ډېر نامعقول شيان هم وي، باور پرې په کار نه دي بايد خپله ورپسې وگرځو او ريسرچ وکړو، پلټنې وکړو او خپل هيواد پخپله وپېژنو.

دوکتور غني: خدای دې کور ودان وساته. پوهېږئ، [له] داسې اشخاصو نه ما اورېدلي چې ويل يې کونړ د کندوز مرکز دی. تللي وو او يوه شهادتنامه يې چېرې اخيستې وه. زموږ يوه عمده ستونزه چې د بې‌ثباتۍ او د لويو بې‌ځايه کېدنو او مهاجرت محصول ده، دا ده چې خپلو ژورو ريښو باندې نه پوهېږو. دې خاورې سره مينه بايد ولرئ. هره برخه کې يې دومره افتخارات پراته دي چې حد نه لري. اما که فکر کوئ چې دې خاورې ته به خدمت وکړئ، دا خاوره په يوه غربي پوهنتون کې په څلورو يا شپږو کورسونو نه آبادېږي. بايد ولس وپېژنئ. خاص شرايط وپېژنئ [او] امکانات وپېژنئ. ګورئ، که کميس او پرتوګ [ګنډئ] په کميس او پرتوګ [ګنډلو] کې مو ټول خياطان ډېر ماهر دي او په اندام يې درته جوړوي. مګر که ليلامي دريشي اخلئ، هغه بله خبره ده. اوس وخت ددې راغلی چې موږ له دې غربي عقدو نه ووځو. ټولې اسلامي نړۍ ته وګورئ، په منځ کې يې ډېر لوی تحرک دی. نن د پيسو مرکز دی په نړيواله سطحه باندې او چين ته وګورئ، هندوستان ته وګورئ، کوريا ته وګورئ، سينګاپور ته وګورئ، ويتنام ته وګورئ... دې ټولو ځايونو ته چې وګورئ، يو لوی حرکت روان دی او هر يو د دوی په خپل تاريخ باندې اوس وياړي، له خپل تاريخه نه تښتي، له خپل دينه نه تښتي، په موږ باندې څه بلا راغله؟ د غربي [ليکوالو] هر شی چې لولئ بايد يو غلبېل ولرئ. [که] له هغه غلبېل يا فلتر نه يې تېر نه کړئ، د هغه تعصب په ځان باندې اخلئ. د اکثرو مورخينو جنجال خاصتاً په هندوستان [او نورو] کې دا دی چې غربي اسناد لولي او خيال کوي چې دا ټول واقعيتونه دي.

جنبش: [وايي ګنې] د کاڼي کرښه ده، هېڅ غلطي نه لري.

دکتور غني: بالکل، د ولس آواز واورئ، د ولس ترجمان شئ. ولس درته وايي چې دغه شيان درنه غواړم، تاسې نه چې تعليم‌يافته يئ يا ادعا د خدمت لرئ، دا غواړي چې طريقه د عمل باندې يې پوه شئ. اما ولس په خپل لومړيتوب باندې ډېر ښه پوهېږي.

جنبش: بلی، این یک جمله معترضه بود، بیایید پس بر گردیم به مسایل موقعیت ما و مسئله داد و ستد، رشد آسیا وغیره. شما گفتید که مرکز تولید جهانی و مرکز ثروت به آسیا منتقل میشود و عملاً انتقال یافته [است]. این امر سبب میشود که...، خوب رشد به مصرف انرژي وابسته است و همه کشورها دارای منابع انرژی نیستند، برخی ها تولید می کنند، برخی ها مستهلک استند، اثرات دراز مدت این داد و ستد بر ما، فکر می کنید چه خواهد بود؟

دکتور غني: تشکر می کنم، که دوباره پس به اصل مطلب آمدید. افغانستان هم مرکز انتقالات انرژی بوده می تواند و هم مرکز تولید انرژی. اول که راجع به تولید بیاییم. ما ظرفیت تولید حداقل ۲۳ هزار میگاوات [برق] را از آب داریم. ۷۰ هزار میگاوات را از باد داریم و چند صد هزار میگاوات را از آفتاب داریم. بنابراین این سه منبع ما، که آب در گذشته هم مطرح بوده نه به این مقیاس، اما باد و آفتاب ما به این شکل مطرح نبوده که ما را به یکی از مراکز عمده تولید [انرژی]

مبدل کرده می تواند. دوم موضوع انتقال است که تهدابش به صورت اساسی گذاشته شده [است]. چون آسیا مرکزی فعلاً به صورت حاضر اضافه تولید بزرگ انرژی دارد، و آسیای جنوبی، خاصتاً پاکستان ضرورت بسیار شدید دارد. یک بحران عظیم انرژی [در پاکستان است] که برای فابریکه های صنعتی خود، خاصتاً در فیصل آباد که مرکز تولید نساجی شان است، [ضرورت شدید به انرژی] دارد. در پهلوی این، انرژی سبز امکان ایجاد صنعت سبز را در افغانستان به وجود می آورد. این را که با معادن خود یکجا کنیم، به یک تهداب اساسی رفاه ما مبدل شده می تواند. در اینجا خاصتاً مس و آهن ما مهم میشود چون برای انرژی سبز، انتقال لین های برق ضرورت به فلزات خاص دارد که این فلزات خوشبختانه به سطح بزرگ در افغانستان موجود است. مهمترین بخش این ایجاد بطری ها است و بطری ها به عناصر نادره تعلق دارد. و افغانستان را یکی از جیولوجیست های روسی یک نام بسیار [با] مسمی دا ده بود، گفته بود جدول مندلیف است. یعنی جدولی که مندلیف کیمیادان مشهور روسی ایجاد کرد، مقدار عناصر نادره ییکه در افغانستان وجود دارد، در بسیار کم کشورها وجود دارد. این حالا پس به این تعلق می گیرد از نگاه دیدگاه، که دیدگاه قوماندان را مطرح می کنید و یا امریکایی ها و اروپایی ها یی را که می گفتند غیر از سنگ در افغانستان چیزی نیست یا به طرفش از دیدگاه ثروت بزرگِ گنج پنهانی که وجود دارد و می تواند موجب رفاه قاطبه ملت شود، از این دیدگاه می بینید.

جنبش: بلی، تر هغو پورې چې دغه ثروت او دغه شتمني چې شته، راوځي او موږ ترې ګټه پورته کوو، آسیا به یو ډېر لوړ ځای ته رسېدلې وي، مخصوصاً چین او هند. زه فکر نه کوم چې افغانستان دې دا کوم موقعیت کې چې اوس دی په آسانی هغوی ته ورسېږي، یا بالآخره به موږ په داسې یو موقف کې شوو چې یا به مو څوک څنګ کې نه پرېږدي یا به مو نه زغمي وايي [به] دا دومره وروسته پاتې دي چې موږ سره مزل نه شي کولای!

دکتور غني: د دې هم څو برخې دي. یوه دا ده چې ښېرته پاتې هیوادونو ته یو فرصت دی، ځکه که ښېرته پاتې اوسئ د ټکنالوجۍ له نظره، اوچت ګام اخیستلی شئ نوې ټکنالوجی ته. مثال یې درکړم. پخواني ټیلیفونونه ټول په کېبلونو او نورو باندې [ترلي] وو او زه چې مالیې وزارت کې وم، دوه کمپنۍ راغلې، یوې ویل چې موږ به لس زره لاینه درته راوړو، بلې ویل دېرش زره لاینه، یو شل میلیونه غوښتل بل پنځوس میلیونه. له ښه مرغه ما په دې برخه باندې نړیوال بانک کې کار کړی و، ما ورته وویل نه، موږ ځو راساً بیسیم تیلیفونو ته. اوس له ۲۲ تر ۲۴ میلیونو نه ډېر ټیلیفونونه لرئ. د افغانستان ۹۰٪ ولس ټیلیفون ته لاسرسی لري. او غیر له هغې نه، ددې ټیلیفوني شرکتو [نه د دولت] عواید پس د ګمرکاتو او مالیاتو نه، دربیمه برخه د عوایدو وه. د دې امکان شته اما دا ښېرته انتخاب غواړي. بله برخه هم مه هېروئ، نن عربي نړۍ کې ډېره لویه پانګه او ډېر لوی ظرفیت موجود دی، باید یوازې هغه خوا ته ونه ګورو. په بانکي معاملاتو کې، د پیسو په معاملاتو کې او په انرژۍ کې او پانګې اچولو کې د خلیج ملکونه یو ستر رول لري. د دې ابعاد کتلی شوو، خبره په دې کې ده چې څومره ظرفیت لرو؟ دا ښېرته دې ته راځي چې انسان باندې [پانګونه] کوو، انسان ته اهمیت ورکوو، او هغه

لارې او چارې انتخابوو، چې په کې هم چټک حرکت وي او هم تلپاتې حرکت وي. دا په انتخاب پورې ده. اما که صبر وکړئ او فکر وکړئ چې همېشه به دا فرصت وي، بیا هغه [فرصت] ځي.

جنبش: در عین حال موافق خواهید بود که وصل شدن با این روندهای تپنده و جهنده برای رشد، در عین حالی که فوایدی دارد بدون شک، اضراری هم دارد و عوارض جانبی هم دارد. از جمله برای محیط زیست و ایجاد افراط و تفریط در جامعه که می تواند عواقب بدی برای کشورهایی مثل افغانستان داشته باشد. چگونه می توانیم یک رشد سالم را در این جهان در حال تغییر ایجاد کنیم و پیاده کنیم؟

دکتور غنی: از نگاه محیط زیست خدمت تان عرض کردم که افغانستان در موقعیت نهایت خوب است که هم انرژی سبز را تولید کند و هم صنعت سبز را. طرحی را که با یکی از کلانترین سرمایه‌دارهای آسترالیا مطرح کرده بودیم، اساس شد برای این که انرژی سبز برای صنعت سبز. این مطالعات همه در حال تکمیل بود و افغانستان در [جمله] شش کشوری بود که در لیست بالای اینها قرار داشت. این قابلیت و ظرفیت وجود داشت اما معلومدار شرایط مناسب می خواهد. نکته دیگرش از نگاه محیط زیست این است که افغانستان ظرفیت این را دارد که ده‌ها هزار جریب زمینی را که در گذشته جنگلات بود و حالا به زمین خشک مبدل شده است، دوباره احیا کند. این نه تنها تاثیرات بسیار مفید محیط زیستی دارد، [بلکه] پول بسیار بزرگ در این قسمت وجود دارد، و یک تجربه موفق هم در خیبر پښتونخوا وجود دارد که یک میلیارد درخت [غرس] شد و یکی از موفقیت های بزرگ است که در خیبر پښتونخوا و به صورت عمومی در منطقه به وجود آمده [است]. در سابق مفکوره این بود که صد سال می گیرد که دوباره یک جنگل را احیا کنید. یک عالم جاپانی یک طرح را به وجود آورده که در ظرف پنج سال جنگلات احیا شده می تواند. و انتخاب این جنگلات باز هم [از نظر] نوع درخت‌هایی که [انتخاب] میشوند، کوریای جنوبی یک مثال بسیار زنده است که توانست جنگلات خود را زنده کند. خوبی افغانستان در این است که خاک بیجا نشده در اکثر جا ها، چون مقدار بارش به [آن] اندازه نیست، اما [توجه به] خشکسالی ضرورت واضح است. باز هم از داکتر ناکامور یاد می کنیم، که نوع احیای جنگلات را که در کنر و ننگرهار عملی کرد واقعا یک مثال بسیار ارزنده است. در [بخش] افراط و تفریط که مهم‌ترین گپ تان است، دوباره سر این می آییم که آیا انکشاف برای قاطبه ملت است یا برای یک اقلیت است؟ اقتصاد جنایی و اقتصاد شبکه‌یی کُل اش برای یک اقلیت است. وقتی که اکثریت مردم در یک اقتصاد عرفی قرار بگیرد، بخور و نمیر زندگی می کند. تجارب بسیار واضح وجود دارد از سنگاپور و کوریا گرفته. رییس جمهور کوریای جنوبی که اساس این را گذاشت جنرال پارک، گرسنگی بسیار شدید را در طفولیت خود تیر کرده بود. از این جهت تمرکزش [روی] این بود که چطور مردم را نان بدهد. حتی در قصر ریاست جمهوری میوه کاشت و اولین حاصل میوه را به تمام وزیرهای خود روان کرد. یک تمرکز اساسی باید [روی] امحای فقر صورت بگیرد. این [کار] با تکنالوژی فعلی امکان پذیر است، اما پیش شرطش این است که باید این تکنالوژی را از خود کنیم. نوع

سرمایه‌گذاری بشری را که برای این کار دارید بسیار بزرگ نیست، اما ضروری است. تا تکنالوژی را مدیریت نکنید، پولی که مصرف میشود چیزی را که از نگاه طرح های بیرونی و از نگاه شرکت های تجارتی و قراردادی به میلیارد دالر عملی می کنید، با صد میلیون عملی کرده می توانید. اساس این باید کاریابی باشد. کاریابی، زندگی مصئون، انتخاب زندگی و انتخاب نسل‌های آینده است.

جنبش: په دې برخه کې داسې کومه خاصه بېلګه شته مثلاً دغه اوس چې تاسې خبرې کولې ماته هند په نظر کې راغی چې د سرمايې او شتمنۍ د تولید مهم مرکز دی، په عین حال کې يې افراط او تفریط وروستۍ درجې ته رسېدلی، مګر په څنګ کې يې چین دی، د افراط او تفریط دغسې درجه ښايي ونه لري. فکر کوئ داسې بېلګې شته چې افغانستان يې بيا تعقیب کړی شي؟

دکتور غني: مطلق. سینګاپور ته وګورئ. سینګاپور [ببخي] بېوزلی و، د دوی یو ستر شخصیت و اداري شخصیت، غیر له لی کوان یو نه چې هم وزیر د مالیې و او هم وزیر د دفاع و، دی تللی و نیویارک ته او باغ وحش يې لیده. باغ وحش کې خوشخویه و، دا يې ولیدل، ویل يې بېرته چې لاړو دا مرغان باید باغ وحش ته راوړو. خلکو ورته وویل چې ولې پړانګ یا دا نور حیوانات را نه وړو؟ پوهېږئ څه يې ورته وویل؟ ویل يې هغوی ډېره غوښه خوري، موږ دومره بډای نه یوو چې د غوښې امکانات  ورکړو، دا مرغان په اول کې راوړئ. پله په پله دوی [مخ ته] راغلل. او سینګاپور هېڅ طبیعي منابع نه لري بې له موقعیته، حتی اوبه نه لري، اوبه يې ټولې له مالیزیا او نورو راځي. د ښناک اوبه نه لري. تر دې حده پورې. دوی چې له مالیزیا نه بېل شول، هغوی فکر کاوه چې دوی به په ننواتو بېرته راځي، اما پوهېږئ چې څنګه يې وده وکړه. جنوبي کوریا ته هم وګورئ، دومره کمزوری  و، څکه چې ټوله صنعتي برخه په شمالي کوریا کې پرته ده. د هند افراط او تفریط میراثي دی. چین کې هم وده راغله اما ترتیب باید وګورئ. سکاندیناوي ملکونه په نولسمه پېړۍ کې حالت يې لکه افریقايي ممالکو غوندې و، اما په شلمه پېړۍ کې دوی د متوازن انکشاف مراکز وګرځېدل. د لاتینې امریکا تجربه منفي ده، د [ځینو] نورو هیوادونو تجربې منفي دي، له هغه نه موږ باید درس واخلو او تجربې باید سره یو کړو. تاریخ یو ډېر لوی مکتب دی، څکه بې له دې چې مجبور شئ چې عملي تجربې [بیا وروسته یو په بل پسې] پخپله وکړئ او ورنه درس واخلئ، د نورو د مثبتو او منفي تجاربو نه داسې درس اخیستلی شئ،اما شرط يې دا دی چې دا سره داسې ګډ کړئ چې ستاسې په جامعې باندې او ستاسې په شرایطو باندې برابر اوسي.

جنبش: زه چې دا د افغانستان نقشې ته ګورم، وبښئ په همدې تړاو، ماته داسې برېښې لکه رښتیا هم یوه نښلوونکې حلقه. مثلاً لویدیځه آسیا ده، منځنۍ آسیا ده، دې خوا جنوبي آسیا ده. حتی که د واخان کوریډور کې وګورئ  وړاندې لرې ختیځ، ختیځه آسیا راتلی شي. موږ دوی ټول سره نښلولي؛ بل داسې یو هیواد زما نظر ته نه راځي چې په دغه موقعیت کې وي. یا به دا زموږ خوشباوري وي، موږ همیشه دغسې ویلي دي، که بېرته هاغې د آسیا د قلب او زړه موضوع ته ستانه

شوو. زه غواړم تاسو د هیواد د مشر په توګه چې ډېرو مشرانو سره مو کتلي دي [راته ووایاست] چې د دوی په خبرو کې دا صداقت برېښېده چې افغانستان ته هماغسې ګوري د وصل د حلقې په توګه لکه موږ چې ورته ګورو که نه، دوی دا هسې بلندپروازي او خوشبیني بولي؟

دکتور غني: زه به تاسې ته یوه کیسه وکړم. د ملګرو ملتونو اوسنی سرمنشي ښاغلی ګوتیریس په خپل لومړي وار کې افغانستان ته راغی، ما سره یې وکتل او پس له [روغبړه] یې راته وویل: څه دې کړي دي چې دا ټوله مرکزي آسیا جنوب خوا ته ګوري؟ یوه اوونۍ یې په مرکزي آسیا کې تېره کړې وه. ما ورته وویل، ما شمال ته په ډېر ویاړ وکتل. ذهنیت [داسې] جوړېږي. هر وار چې زه یوه ګاونډي هیواد ته لاړم، مشترکې ګټې مو پیدا کړې. د مثال په توګه، قزاقستان ته چې لاړم، مخکې له هغه د غنمو په وارداتو کې موږ مطلق تړلي وو پاکستان [پورې]. هر وار یې چې غوښتل چې تورخم او سپین بولدک را باندې وتړي، کابل، کندهار او نور افغانستان کې به جنجال و. په یوې جلسې کې نتیجې ته ورسېدو چې موږ باید د غنمو له اړخه قزاقستان سره ټینګې اړیکې ولرو او منځمهال او اوږدمهال باندې فکر وکړو. پس له هغه نه ستاسې په یاد دي چې هم د کووېډ په دوران کې او هم غیر له هغه نه په څو نورو وارو کې چې دا [د تورخم او سپین بولدک] بندرونه یې وتړل، یو ذره په غنمو کې کموالی رانغی. ما د ۲۰۱۴ د انتخاباتو په دوران کې ویلي وو چې زما به خارجي سیاست له ترکمنستانه شروع کېږي او مرکزي آسیا نه او خلکو [راپورې] خندل. اما تاسې ولیدل چې ترکمنستان په خپلو پیسو هم تورې غونډۍ ته د رېل پټلۍ راوړله او هم آقینې ته او د برق مزي یې بادغیس ته ورسول. ایران سره، چابهار زموږ یو اساسي بندر وګرځېده او د ارتباط لاره هندوستان سره وګرځېده چې د ځمکې کورېډور او د اوبو کورېډور سره وتړل شي. هوایي له نظره، هوایي کورېډور مو لومړی له هندوستان سره پرانیسته او پس له هغه نه جلغوزیو باندې چین سره وصل شوو او نورو باقي هیوادنو سره. دغه نظر شته، زموږ یوه اساسي خبره دا وه چې پاکستان سره په همدې غږېدو. د پاکستان پخواني لوی درستیز حتی دا تکرار کړله چې منطقي وده کوي، نه یوازې هیوادونه. له بدهمرغه هلته لا زوړ انګریزي فکر چې باید ساحه د نفوذ ولرې، ستراتیژیکه ساحه ولرې، پیاوړی شو، او قیمت یې دوی پرې کړ. افغانستان هم د پاکستان د صادراتو لپاره او هم د ایران د صادراتو لپاره یو لوی هیواد و. د رېل پټلۍ ته ګورئ، زموږ دوست هیواد ازبکستان مطلق دې ته چمتو و چې په ګډه موږ سره پانګه واچوي چې له حیرتان نه د رېل پټلۍ له افغانستانه تېره شي او پاکستان سره او د هغه له لارې تر هندوستان او نورو سره وصل شو. زموږ طرحه دا وه چې یوازې له سالنګ نه د ریل پټلۍ تېربدل ډېر ګران دي، دا لاره مو وګرځوله. نقشه یې دا وه چې له دره‌صوف او [نورو سیمو] نه راشي په بامیانو او همدغه رقم میدان وردګ نه لاړه شي لوګر ته، د لوګر نه هم ننګرهار خوا ته لاړه شي او هم خوست خوا ته چې ټوله برخه د هیواد [له] یو بل سره وتړل شي. یا دا لوی کورېډور چې د تاپي کورېډور و. تاپي اول کې یوازې د ګاز د پایپ‌لاین خبره وه. د دې په څنګ کې د فایبر اپټېک او د برق د مزو، یو لوی انکشافي کورېډور و. دا [داسې و] لکه چې خدای جل‌شانه ببرته یو لوی هلمند سیند راکړي چې سره ونښلي. د افغانستان ۲۱ ولایتونه یا په بین‌المللي سرحدونو کې دي یا د ډیورنډ

په کرښې باندې دي، هره برخه د دې باید انکشاف وکړي. نیمروز ته وګورئ، نیمروز په ۲۰۰۲ کې ځان ته وروسته‌پاتې ویلې. ځان ته یې یو ولایت ویلي چې چا ورته [د قدر] په سترګه نه کتل، د زرنج ښار نفوس د ۸۰۰۰ [تنو] په حدودو کې و.

جنبش: زه هماغه وخت ورغلی وم، د څښلو اوبو دومره تروې وې چې د انسان له ستوني نه تېرېدلې.

دوکتور غني: بالکل. اما نیمروز په ۲۰۲۱ کې، یو هوسا نیمروز باندې په بدلېدو و. ګمرک خلاص شو، د ورېښم پُل په هلمند باندې جوړ شو، کمال خان بند [پرانیستل شوا]. د څلوردېرش ولایتونو د افغانستان نه [خلک] په نیمروز کې وو او ټولو ویل چې نیمروز کوچنی افغانستان دی. د ودې شرایط ټولو ولایاتو کې شته. بامیان د مثال په توګه، هغه عظیم ظرفیت د اوسپنې د کانونو چې بامیان کې پروت دی، ضرورت د دې دی او زموږ طرحه دا وه چې اوسنی بامیان ښار باید په یوه تاریخي توریستي مرکز باندې بدل شي. یو نوی ښار باید په اساسي توګه نقشه شي او آباد شي. هم به د رېل پټلۍ درباندې تېرېدله. سرکونه یې تر کار لاندې وو. [هدف دا و] چې د صنعتي بامیان مرکز له یوه لرغوني بامیان سره په تضاد کې نه وي، بلکې د دې متمم وي. دا ټول په طرحې پورې تړلي دي، اما امکانات یې شته. او د چین [په اړه] دا ضروره ده چې یوه تاریخي یادونه وکړو. له واخان نه پاس، هغه خوا ته کران او منجان نه، آسانترینه لاره نورستان او کونړ ته ده. د دې اساس د عبدالرحمن خان په دوران کې ایښودل شوی و [چې] له بده مرغه [وروسته] تعقیب نه شوه. داسې نه ده چې موږ د دې خلاف یوو او [وایو] چې خدای مه کړه هغه برخه دې شمال شرق سره ونه تړل شي، اما د هغې قیمت به په مراتبو ډېر وي. هره ساحه د افغانستان باید د خصوصیاتو له نظره وکتل شي. هغه معادن چې په کونړ، نورستان او بدخشان کې پراته دي، د دې امکان ان‌شاءالله تعالی برابروي چې عصري زېربناګانې د دې د ودې لپاره موجودې شي او موږ [له یو بل سره] وتړي. د چین انکشافي مسیر رسېدلی دی واخان ته. [اوس] هغه پخوانی واخان نه دی.

جنبش: به لحظات اخیر این برنامه هم رسیدیم، یک دو سوال به عنوان جمع‌بندی می کنم. اول این که، فکر می کنید این خطر وجود دارد که افغانستان باز مانند قرن های نزده و بیست به مرکز رقابت های ابر قدرت ها تبدیل شود؟

دکتور غنی: کلانترین سرمایه ما معادن ما است، اما کلانترین امکان بدبختی ما از نگاه معادن ما وجود دارد. و این ضرورت به توجه عاجل دارد. بخش دیگرش این است، من خدمت تان قبلاً هم ذکر کردم و باز تاکید می کنم، افغانستان باید بی طرفی دایمی خود را به زودترین فرصت تامین کند، تا از این مسابقات برآییم. ما قربانی دوامدار رقابت‌های امپراتوری‌های بزرگ و قدرت های بزرگ بودیم، عرض من این است که اجماع لازمی در مملکت صورت بگیرد، که چهل سال آینده، پنجاه سال آینده را ... و خاصتاً سالهای باقی مانده تا سه صد سالگی افغانستان را وقف انکشاف، ثبات و

رفاه مردم خود بسازیم. این ضرورت به این دارد که اولویت را [بالای] منافع ملی خود بگذاریم و از انواع حرکت‌ها و انواع ارتباطاتی که موجب صدمه بزرگ به هویت ملی ما و وحدت ملی ما و آینده نسلهای آینده ما میشود، جلوگیری کنیم.

جنبش: ویل کېږي چې زموږ د موقعیت دوې نیمګړتیاوې، که څه هم یو څه پرې وغږېدو، د نیمګړتیاوو په شکل یې نه شوو منلی، خو دغه شیان مې لوستي دي چې وایي دوې نیمګړتیاوې یې دا دي چې یو ډېر غرونه لري دننه یې وصلېدو ته نه پرېږدي او بل له سمندر نه جلا پروت دی، بهر سره یې وصلېدو ته نه پرېږدي. دا نیمګړتیاوې دي که نه؟

دکتور غني: لومړی مرحله کې معلومدار [دي]، اما خبره په دې کې ده چې دا موانع دي. آیا [داسې] نور ملکونه شته چې دا موانع یې درلودلې او وروباندې بریالي شوي، که نه؟ که له یوې خوا نه په وچې باندې پراته یوو، له بلې خوا نه آیا مرکزي موقعیت لرئ چې د وصل ځای وګرځي. مخکې مې چې توضیحات درکړل، نن چابهار ته، کراچۍ ته، ګوادر ته، ها خوا د کسپین بحیرې ته، ټولو بخشو ته تر جورجیا بندرونو پورې او له چابهار نه ممبئ او نورو ته، په ډېره آسانه توګه رسېدی شئ. د هوایي کورېډورنو له نظره [په] بهترین موقعیت کې یئ، ځکه چې اوس نظامي حرکتونه نشته، دا یې لوی خنډ و، ډېره لنډه لاره د طیارو لپاره د افغانستان له فضا نه ده. د افغانستان د فضا مدیریت یوه ډېره عظیمه برخه زموږ د راتلونکو هوایي کورېډورونو وه. هوایي اډې [همداسې] که سمه ګټه ترې پورته شي. بګرام یو میلیارد ډالر ارزي، یوازې بګرام نه دی، د شورابک هوایي اډې هغه برخه چې کانکرېټ شوې ده، د دوبۍ هوایي اډې سره برابره ده. سلها جریبه ځمکه ده هلته. دا ټولې هغه برخې دي چې ورنه ګټه [اخیستل] په کار دي. دا یوه اراده او طرحې غواړي چې دا بدل شي.

جنبش: وبښئ، طرحې فکر کوئ، دا دي چې چاته یې اجاره ورکړو که خپله یې د وصل په ځایونو بدل کړو؟

دکتور غني: نه، د وصل په ځایونو یې بدلولی شئ، اما دا[سې] نه ده چې اجاره [یې] ورکړئ، ځکه باید تولید ولرو. د صادراتو په مراکزو باندې بدلېدلی شي. اما که تولیدات ونه لرئ او تولیدات مو [صادر نه شي، بیا نه کېږي]. د مثال په توګه جلغوزي مو ټلل پاکستان ته او له پاکستانه د پاکستاني جلغوزیو په نامه صادرېدل چین ته، هغوی به یو میلیارد اخیستل. پس له هغه نه له چین نه جرمني ته صادرېدل د چینایي جلغوزو په نامه باندې. هغوی څو میلیارده نور اخیستل. موږ اول زمینه د دې برابره کړه چې دا چین ته صادر شي او دې یو عظیم بدلون د خلکو په برخه کې راوړ. اما دویمه برخه کې مو هدف دا و چې جرمني ته راساً لاړ شوو ځکه چې لوی ترین بازار د جلغوزیو په جرمني کې دی. مګر هر یو د دې روغتیایي سرتیفیکیتونه غواړي، درسته سلسله غواړي. طلا لرو، اما څنګه یې خرڅوو؟ زمرد لرو، څنګه یې خرڅوو؟ یاقوت لرو، یا لاجورد او نور لرو. دا هر شی چې وګورئ، خبره په دې کې ده چې د تیرې په حیث یې خرڅوئ [که] د زېور په حیث؟ یعنې افغانستان د دې ډېر ښه ظرفیت لري چې د زیوراتو د تولید په مرکز باندې [بدل شي]. قالینې [وګورئ]، قالینې مو شاته غورځېدلې دي، اما ۲۰۲۰ او ۲۱ کې مو ټوله سلسله دا وه چې ډېر پلورونکي د قالینو دې باندې نتیجې ته

رسېدلي وو چې خپل ځيني مراکز له هند و پاکستان نه افغانستان ته بدلولی شي. هغه حالت کې بيا دا نتيجه ورکوي، اما که دا يوازې اجارې ته ورکړئ، دوی به پرې څه وکړي؟ ځکه که توليدات نه وي، که راشه درشه نه وي، او په اساسي توگه هغه مقدار نه وي، بيا له هغه نه گټه نه شئ پورته کولای. [د] انگورو ډېره برخه په اوسنی بڼه ځي پاکستان ته، دا چې هلته هغه [روغتيايي] قوانين نشته، اما ايران ته ډېر کم صادرووو. اوس له بده مرغه ډېره برخه د انگورو پاتې کېږي. د منې او نورو امکان شته، يعنې اقلامو باندې غرېدی شئ، اما هر يو يې يو زنځير د ارزښت غواړي، او هر [څومره] چې زنځير پراخ شي، په هماغه اندازه باندې پيسې پيدا کوي او منځ کې خلکو ته ډوډۍ برابروي.

جنبش: می خواهم آخرين سوال را در مورد مسايل مربوط به موقعيت در اين مورد داشته باشم که فکر می کنيد، پيش بينی شما برای حداقل ده، بيست، سی سال و يا بيشتر از آن در مورد موقعيت افغانستان چيست که با توجه به اين تحولاتی که در منطقه و جهان رخ می دهد چه چيزی می تواند يک تاثير مثبت بر روی اهميت موقعيت ما داشته باشد و چه چيزی می تواند يک تاثير منفی را به بار بياورد؟

دکتور غنی: عمده ترين موجب تغيير مثبت ايجاد يک اجماع لازمی ملی برای  ايجاد يک نظام سياسی مشروع و قابل اعتماد مردم و دارای مشروعيت منطقوی و بين‌المللی است، که تمرکز واضح [روی] امحای فقر، وحدت ملی و استفاده شفاف و مشروع برای بهبود وضعيت اکثريت مطلق مردم که سه قشر: جوان، زن و فقير است. اين بدون همکاری منطقوی، بدون درک مناسبات مثبت بين‌المللی و طرح های واضح که موثريت و تحرک در آن وجود داشته باشد، به وجود آمده نمی تواند. نکته منفی اش اين است که بار ديگر انتخاب آگاهانه يا ناآگاهانه برای انزوای کشور و ايجاد شرايط اقتصاد جرمی و شبکه يی را به وجود بياوريم که دارايی خود را به پشيزی بدهيم و عوض اين که اين دارايی ها و سرمايه های پنهان و وسيع موجب انکشاف ما شود، موجب بدبختی ما شود.

جنبش: شما از زاويه ديد داخلی گفتيد، من از نظر جهانيان گفتم که چه چيزی می تواند ما را تحرک مثبت بدهد و چه چيزی منفی؟

دکتور غنی: عين چيز است. بدون يک نظام مشروع امکان جذب کمک های مشروع بين‌المللی وجود ندارد. سرمايه‌های بزرگ را خاصتاً که ضرورت داريم، هر يک اين طرح‌ها ثبات می خواهد. اگر ثبات واضح وجود نداشته باشد، اين سرمايه‌گذاری ها را کی تامين می کند؟ کی بيمه اش می کند؟ افغانستان ضرورت به انواع سرمايه‌گذاری دارد، که نتيجه آنرا سرمايه‌دار ها حداقل پنج سال، تا ده سال تا پانزه سال بايد ديدگاه داشته باشند و اين ضرورت به ثبات دارد. ضرورت به يک نظام قابل پيش‌بينی دارد نه اين که هر روز يک تغيير در آن بيايد. پنج حق اساسی اسلامی پيش شرط واضح اين است. از نگاه فرهنگ و غيره ما، کسی با ما کار ی ندارد، اين نکته کليدی ما است. دين ما دين مبين اسلام است.

مسلمان بودیم، مسلمان استیم و تا ابد مسلمان خواهد بودیم. اما نوع تعبیری که ما از دین مبین خود می کنیم یک نکته مهم است. کدام دوره را محور قرار می دهیم؟ کدام متون را؟ و همرای دنیا انتخاب آگاهانه ما چیست؟ اگر تاکید [روی] این باشد که یک عده حاکم استند و هیچ کس نه حق انتخاب دارد و نه حق [دیگر یعنی] فاقد حق است، در این [وضعیت] امکان این نوع تغییر مثبت نیست. اما اگر به نتیجه واضح برسیم که هم باید در آباد ساختن افغانستان، ایجاد رفاه آن، و حفظ میراث تمدنی ما [توافق داریم]، دیدگاه این که ما به صورت دایمی مجبور نیستیم فقیر باشیم، مجبور نیستیم ضعیف باشیم، مجبور نیستیم به کمک دیگران یا صدقه دیگران محتاج باشیم. اگر افتخار دارید چرا صدقه را قبول می کنید؟ چندصد خیمه را اگر سرش افتخار می کنید که یک کشور چند صد خیمه به ما داد از خاطر مهاجرین ما یا زلزله [زده‌گان]، چند صد خیمه چند می ارزد؟ آیا اینها این پول را ندارند از امکانات گزافی که از اقتصاد جانبی خود ایجاد کرده اند؟ محتاجی را اگر سرش اعتراف می کنند معنی آن اعتراف بر این است که توانایی ندارند.

جنبش: چې لنډه يې کړو، زموږ په موقعيت باندې مثبت او منفي تاثير زموږ په کړنو پورې اړه لري. هماغسې چې ويل کېږي خپله ژبه هم کلا ده هم بلا. کېدای شي يا ځان ته کلا جوړه کړو يا ځان ته بلا. ډېره مننه، کور مو ودان استاده. د دې خپرونې وخت پوره شو. له ولسمشر محمد اشرف غني سره دا بحثونه به په راتلونکو اوونيو کې هم وغځوو.

دکتور غني: زښته ډېره مهمه ده، ژبه پښتو، او دري او ازبکي او ترکمني او بلوچي او نورستاني او … دا نه ده. ژبه دا هم ده چې د وصل وسيله ده. زموږ ټولې ژبې ګلان دي په يوه باغ کې. دا ټول سره څنګه راوړو چې يو ملي ليد راشي، چې هر افغان ځان په کې وګوري او لکه هغه ګلان چې له يو بل نه عطرونه اخلي او باغ ورنه جوړېږي. راشئ چې افغانستان په يوه باغ بدل کړو، نه په يوه وچه صحرا باندې.

تل دې وي افغانستان، يشه سن افغانستان، زنده‌باد افغانستان.